مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۲/۰۲

# کتاب او عالمان

یو چینایي متل دی: کله چې انسان ۱۰ کتابونه لولي، نو ۱۰ زره میله سفر کوي.

ګورچ فوک وايي: ښه کتابونه هغه نه دي چې زموږ لوږه ختمه کړي. بلکې ښه کتابونه هغه دي، چې زموږ لوږه نوره هم ډېره کړي. د ژندګی د لا ښې پېژندنې لوږه.

ائولس ګیلیوس وايي: کتابونه خاموش استاذان دي.

فرانز کافکا وايي: له کتابونو خالي کوټه داسې ده، لکه له روحه پرته بدن.

ګویته وايي: ډېر خلک په دې خبره نه پوهیږی، چې مطالعه زده کول څومره سخت او وخت غوښتونکی کار دی. ما پکې ۸۰ کلونه مصرف کړل؛ خو لا هم په پوره باور نشم ویلی، چې: زه سم لور ته روان یم.

تهومس فون کیمپن وايي: کله چې عبادت کوم، له خدای سره خبرې کوم؛ خو چې کوم کتاب لولم؛ نو خدای له ما سره خبرې کوي.

جین پاؤل وايي: کتابونه یو اوږد خط دی، چې د ملګري په نوم مې لیکلی.

ګټولډ لیسنګ وايي: دنیا په یوازې ځان له چا نه مکمل انسان نشي جوړولی؛ خو که بشپړ انسان جوړېدل غواړئ، د ښو لیکوالانو ښه کتابونه ولولئ!

نووالیس وايي: له کتابونو ډک کتابتونو یوازینی ځای دی، چېرې چې موږ د ماضي او حال له دیوتاګانو سره ازادانه خبرې کولی شو.

المانیان وايي: کتابونه د پیالو په څېر دي، چې اوبه څښل به ترې خپله زده کوئ.

خو زموږ په هېواد کې کتاب لوستنه بیخي په نشت حساب ده. څنګ ته ګاونډ کې مو هم في وګړی تول کال کې یوازې ۶ کلداري په کتابونو مصرفوي.

نو چېرته چې بوټان او څپلی په الماریو او ښیښو کې ایښې وي؛ خو کتابونه په ځمکه پراته وي؛ هلته د تمدن، پرمختګ او شعوري پراختیا امید مه کوئ.

ژباړه:

سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ